مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمیع الدین افغاني ۲۰۲۰/۰۸/۱۲

# سولې، پیمان سره یم

نه کوم تنظیم نه کومي ډلې نه سازمان سره یم
ساده پښتون یم زه خپل ګران افغانستان سره یم

دلته تاجک اوزبیک، ایماق که هزاره اوسیږي
زه د ترکمن، نورستانی زه هر افغان سره یم

د بیلو لارو نظریــو له تــربګنی خلاف یم
چې د ملي ګټو پاسبان وي هغه ځوان سره یم

تــنــها یو والی، پـیـوستون دا فاصلې لنډوي
زه د هـوښیاره با تـدبـیر، عاقل انسان سره یم

مــلـي احساس وطــنــپــالــنه د بــري لاره ده
د ګــران وطــن د سوکالی د ارمــغــان سره یم

نن که اغیار د بل په لمسه کربلا جوړوي
زه په وطن باندی مین د لوړ ارمان سره یم

افغاني ځو به دا ناخوالې وي ناتار دلته کې
د جنګ لمني تولوم ، سولې، پیمان سره یم

۱۱ - ۸ - ۲۰۲۰
م ۰ کال



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ